AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۹/۰۲

# پوروړی

زه یو شعر پوروړی یم
د هغي نجلی
چي زما اولنی تولګه یي
بازار نه واخیسته
زه یوه سندره پوروړی یم
د هغي نجلی
چي زما اول البم یي
بازار نه واخیست
زه یو لیک پوروړی یم
د هغي نجلی
چي زما انځور یي
ګیلري نه واخیست
زه یوه کیسه پوروړی یم
د هغي نجلی
چي زما د ژوند کیسه یي
ناول نه واخیسته
زه یوه بوسه پوروړی یم
د هغي نجلی
چي زما بوسي یي په غاړه
له خیال نه واخیستي
او زه تول عمر پوروړی یم
د هغي نجلی
چي هیڅ بي هیڅه یي
زړه را نه واخیست
زه پوروړی یم...

#یادونه: دا کربني مي پخوانی ایدي کي هم اغلي PALLMA ته ډالی کړي وي، دلته دي هم نذر ومني🙏!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ